# برشنا فرهنګي بنسټ

**BRESHNA FOUNDATION FOR CULTURE**




عبدالغفور برشنا – ځان انځور، د تېلو رنګ په کینوس

2023 | 2024

# مقدمه

د ۲۰۲۳/۲۴ کالونه د برشنا فرهنګي بنسټ لپاره خورا مهم فرهنګي کالونه وه. د تاسي د ملاتړ په مرسته ،موږ وتوانېدو چي یو شمېر مهمي پروژې ترسره کړو او د افغانستان د هنر او فرهنګ د ترویج په برخه کي ارزښتناک رول ولوبوو.

له هغو مهمو پیښنو څخه یو د شتوتګارت لیندن موزیم ننداړتون کې. زموږ ګډون و.موږ وتوانېدلو چي د عبدالغفور برشنا د مړیني پنځوسم تلین ولمانځو او د هغه فرهنګي میراث ته درناوی وکړو. هغه ځانګړې ورځ چي دغه ننداړتون ته ځانګړې شوې وه، او همدارنګه د ننداړتون د کاتالوګ لیکنه، د برشنا د فکري او هنري آثارو د هغه د اهمیت په اړه ژوره پاملرنه څرګنده کړه.

یو بل تمرکز مو د آرشیف پراخولو ،د ارزښتناکو آثارو ډیجیټال کولو او د نوي وېبپاڼي د جوړوني چمتووالي باندی و – یوه داسي پلاتفورمه، چي په راتلونکي کي د څېړني، زده کړې او فرهنګي تبادلي یو مهم مرکز وګرزي.

په دې راپور کي غواړو چي د تېرې دوه کلني دورې د فعالیتونو او لاسته راوړنو یوه یو لنډه کتنه وړاندې کړو. دا فعالیتونه ښیي چي زموږ بنسټ د ۲۰۲۳/۲۴ کال په موده کي د ننداړتونونو، پیښنو او آرشیفي چارو په برخه کي څنګه وده کړې ده.

دا پرمختګونه به د رضاکارانو او شریکانو له همکارۍ پرته هېڅکله ممکن نه وای. موږ له ټولو هغو کسانو څخه چي زموږ سره د شلمي پیړۍ د افغان فرهنګي میراث د ساتني په برخه کي مرسته کړې ، له زړه مننه کوو.

موږ د راروان کال په هیله یو او تاسو ته بلنه درکوو چي زموږ تر څنګ پاتي شئ او زموږ نوښتونو ملاتړ وکړئ.

**زموږ په ګډو هڅو سره، کولای شو د افغانستان فرهنګي میراث ته پراخ لید ورکړو، تعلیمي پروژې پیل کړو او خلاقانه تبادله لا پیاوړې کړو.**

په درنښت،

ډاکټر انجنیر زهرا برشنا
د برشنا فرهنګي بنسټ مشره

# رسالت

برشنا فرهنګي بنسټ په ۲۰۲۱کال کې د دې لپاره جوړ شو، چې د افغانستان د شلمې پېړۍ هنري،انجينري او معماري ميراث د ساتنې، ارزونې ،او مطالعې زمينه برابره کړي، او خلک د دغه غني فرهنګي ميراث سره بلدتيا ومومي. دا بنسټ د افغانستان د هنر او فرهنگي هويت د پېژندنې او ارزښت ورکولو ته ژمن دی ،او ځوان نسلونه – که دننه په افغانستان کې وي يا په مهاجرت کې – هڅوي چې له خپل فرهنګي ميراث سره په فعاله توګه آشنا شي.

د برشنا د بنسټ فعاليتونه د برشنا د کورنۍ پر ژور فرهنګي دود ولاړ دي؛ داسې يوه کورنۍ چې نږدې يوه پېړۍ د فرهنګي چارو برخه پاتې شوې ده. (**عبدالغفور برشنا**) ۱۹۰۷–۱۹۷۴يو مخکښ هنرمند، موسيقار او ډرامه‌ليکونکی و، او (**عبدالله برشنا**) ۱۹۳۳–۲۰۲۱ يو وتلی مهندس او ښاري پلان جوړوونکی و، چې د دې فرهنګي لارې له بنسټګرانو څخه ګڼل کيږي.

د بنسټ چارې پر څلورو اساسي محورونو راڅرخي:

•**ساتنه او محافظت:** د هنري او انجينري آثارو آرشيف، مستندسازي او ډيجټلي ثبت؛

•**پراخونه او ملاتړ:** د بورسونو ،نندارتونونو او فرهنګي پروګرامونو د ودې له لارې د ځوانو استعدادونو ملاتړ.

•**نوښت:** د داسې نوښتګرو او خلاقو پروژو پراختيا، چې تېر، اوسنی او راتلونکی سره ونښلوي.

•**همکاري:** د فرهنګونو ترمنځ د ډيالوګ د پراخولو لپاره نړيوال شراکتونه.

برشنا فرهنګي بنسټ د نندارتونونو، خپرونو ،تعليمي پروګرامونو او ډيجيټلي نوښتونو له لارې، د افغانستان د فرهنګي ميراث د درناوي په برخه کې فعاله ونډه اخلي

# زموږ په اړه

**حقوقي حيثيت**

بنسټ يو راجستر شوی غيرانتفاعي فرهنګي برشنا خيريه اهداف تعقيبوي بنسټ دی چې يوازې.

**د بنسټ رئيسه او امينه**

زهرا برشنا، د خپل پلار او د برشنا فرهنګي بنسټ اېښودونکي مرحوم (عبدالله برشنا)له خوا د بنسټ د امينې او رئيسې په توګه وټاکل شوه.

**د پرېکړو نيولو هيئت**

اوسمهال درې دايمي غړي لري: دکتوره زهرا برشنا (رئيسه)،حبيب برشنا او يوسف برشنا – دوی د عبدالله برشنا زامن او د عبدالغفور برشنا لمسيان دي.

شيما برشنا، د مرحوم عبدالله برشنا مېرمن، د هيئت لوړ پوړۍ غړې ده.

**کميټې او کاري ډلې**

د امناوو يا پرېکړه‌کوونکي هيئت له خوا د بورسونو او جايزو د پروګرامونو د اداره کولو او پرمختګ لپاره دايمي کميټه ټاکي. کاري ډلې بيا د ځانګړو پروژو د پلي کولو لپاره موقتي جوړيږي، لکه د بنسټ د ملاتړ غوښتنې.

**مالي او تماس معلومات**

**Sales Tax ID-Number** DE 347853333

**Bank Account**
Breshna Foundation for Culture
Volksbank Karlsruhe Baden Baden
IBAN:DE256619 0000 0010 6799 40
BIC: GENODE61KA1

**Contact**
Breshna Foundation for Culture
E-mail: info@breshna-foundation.org
Website: breshna-foundation.org
Zahra Breshna
Friedrichstraße 171, 10117 Berlin
Phone: +49 (0)30-469993658
Fax: +49 (0)30-469993659

# د ۲۰۲۴ کال مهمې پېښې

## نندارتون: "شتوتګارت – افغانستان"




د چاپ حق: لیندن موزیم اشتوتګارت | عکس: دومینیک درازډو
د برشنا د آثارو بېلګې چې په نندارتون کې ښودل شوي

**(جنوری – می ۲۰۲۴، موزیم لیندن شتوتګارت)**


د عبدالغفور برشنا غوره آثار د "شتوتګارت – افغانستان" نندارتون ځانګړې برخه وه؛ دا نندارتون د لیندن موزیم لهخوا جوړ شوی و او د افغانستان او آلمان ترمنځ کلتوري اړیکې نښې یې ننداري ته وړاندې کړې.

یاد نندارتون د بېلابېلو لیدونکو لپاره د افغانستان معاصر فرهنګي میراث اهمیت ته نوې کتنه وړاندې کړه.

د **عبدالغفور برشنا آثار–** چې د شلمې پېړۍ د افغانستان له برجسته هنرمندانو څخه شمېرل کېږي –اثار یې یو ځل بیا د پام وړ وګرځېدل او د افغانستان او اروپا د هنر په تاریخ کې له نوې زاویې وڅېړل شول.

**د برشنا فرهنګي بنسټ** مشرتابه ویاړي چې د دې مهم فرهنګي پروژې برخه وه ،یوه پروژه چې نه یوازې د تاریخ د بېه درک سبب شوه، بلکې د افغانستان د هنر د لا ژورې پېژندنې لپاره یې نوې افقونه پرانیستل. دا هنري دود، چې نږدې یو قرن وړاندې د عبدالغفور برشنا د آلمان د زده کړو له دورې څخه سرچینه اخلي، لا هم ژوندی دی او خپلې رڼا ته ادامه ورکوي.

موږ د لیندن موزیم شتوتګارت او ټولو همکارانو ته د دوی د ارزښتناک ملاتړ له امله مننه کوو.




**د نندارتون مجله**

په مجله کې " د برشنا ژوند او آثار تر عنوان لاندې ( ډاکټر انته کرَمر (د برشنا آثار مستند کړي او هغه یې په پراخ کلتوري – تاریخي چوکاټ کې ځای پر ځای کړي دي. نوموړي د برشنا د هنري میراث د دوامداره اهمیت او د دې په اړه د څېړنو پر اړتیا ټینګار کړی دی مخونه ۱۰۴–۱۲۰.

# د ۲۰۲۴ کال مهمې پېښې

## په لیندن موزیم کې د **( برشنا)** ځانګړې ورځ

د ۲۰۲۴ کال د اپریل په ۲۱مه
د برشنا کلتوري بنسټ د لیندن موزیم شتوتګارت په همکارۍ یوه ځانګړې ورځ د عبدالغفور برشنا په ویاړ جوړه کړه

دا پروګرام د برشنا د اثارو د ځانګړې لیدنې سره پیل شو، چې مشري یې د نندارتون کیوریټرې، **ډاکتره انته کرَمر**، کوله

د لیندن موزیم رئیس، **پروفیسور ډاکترې اینس ده کاسترو**، په یو اغیزمنې وینا سره پروګرام پرانیست او د برشنا د کلتوري بنسټ سره د همکارۍ پر اهمیت یې ټینګار وکړ.

د پېژندل شوو څېړونکو د ویناوو له لارې ګډونوالو ته د برشنا د هنري فعالیتونو پراخ انځور وړاندې شو – یو میراث چې یوازې نقاشي نه، بلکې موسیقي، راډیو، تیاتر، او سیاسي کارتونونه هم پکې شامل دي، او د افغانستان په فرهنګي صحنه یې ژوره اغېزه کړې ده.

د هنر مورخه **ناتالي کرایتس**، برشنا د افغان مدرنیزم مخکښ څېره وباله، او د صنایعو د پوهنځي رئیس، **پروفیسور علم فرهاد**، د هغه تاریخي او معاصر اهمیت تحلیل کړ.

د پروګرام په پای کې، د رباب استاد **داوود خان سدوزي**، د برشنا نه هڅوونکي موسیقی څخه په الهام یو ښایسته موسیقي اجرا کړه چې حاضرینو ته یې ژور تاثور ورکړ.

برشنا چې په ډېرو هېوادونو کې نندارتونونه
لا هم په جرمني کې ښه نه دی ،ترسره کړي
پیژندل شوی، که څه هم چې ډېر اهمیت لري .
دی د یو شخصیت او هنرمند په توګه د افغانستان
او جرمني ترمنځ د فرهنګي اړیکو سمبول دی
داسې اړیکه چې لږ کسان یې د ده په شان -
استازولي کولی شي

**ه شتوتګارت افغانستان ۲۰۲۴ نندارتون مجلې څخه د ډاکترې انته کرَمر لیکنه**













د برشنا د ځانګړې ورځې انځورونه په لیندن موزیم اشتوتګارت کې
د چاپ حق: لیندن موزیم اشتوتګارت | عکس: دومینیک درازدُو

# د ۲۰۲۳/۲۴ فعالیتونه


## د آرشیف کار او ډیجیټلي کول



په ننداړتون «اشتوتګارت – افغانستان» کې ښودل شوي آثار



نمونه‌هایی از آثار نمایش داده شده در نمایشگاه «اشتوتگارت – افغانستان»



د ښودل شویو آثارو د وضعیت د راپورونو بیلګې

### ترمیم او ډیجټلي کول

موږ د لینډن موزیم اشتوتګارت څخه مننه کوو چې د عبدالغفور برشنا نهه ۹نور نقاشي آثار یې ډیجټلي کړل، د رنګونو وضعیت یې د مرمت متخصصې **ډیپلومه رګینه شیلر** له خوا ارزول شو، او یوه د تیلو رنګ تابلو یې مسلکي پاکه کړه

### علمي همکارۍ


نړیوالو څیړونکو او تحلیل ګرانو، د عبدالله برشنا اړوندو آرشیفي موادو او علمي کارونو د تحقیق په برخه کې د همکارۍ لیوالتیا څرګنده کړې

څېنې علمي مؤسسو او علاقمندانو له موږ سره د برشنا هنري آثارو د انځورونو د کارونې اجازه ترلاسه کولو لپاره تماس ونیوه

د کارلسروهه ټیکنالوژۍ تحقیقاتی انستیټیوټ (KIT)، او یو شمیر تولنو او مؤسسو سره چې په افغانستان کې فعالیت کوي، د عبدالله برشنا اړوند تحقیق او مستندسازۍ پروژو په اړه خبرې وشوې

### ډیجټلي معلوماتي بانک

یو منظم ډیجیټلي آرشیف د (بنجامین تیلي) په څخو پیل شو، تر څو د برشنا هنري آثار او تاریخي اسناد د اوږدې مودې لپاره مستند او خوندي شي




زموږ د آرشیف د ډیټابیس د جوړښت او انټرفیس نمونه

# لاندې د ۲۰۲۳ / ۲۴ فعالیتونه
## همکاري او عامه اړیکې

په ۲۰۲۳ کال کې زموږ اصلي تمرکز د عبدالغفور برشنا د مړیني د پنځوسم تلین په مناسبت د ۲۰۲۴کال یادغونډې لپاره چمتووالی و
موږ له شریکو مؤسسو او متخصصینو سره په نږدې همکارۍ څو پروګرامونه طرح کړل، تحقیقي پروژې مو پیل کړې، او د همکارۍ نوې امکانات مو برابر کړل

**د بنسټ عمومي راپور ۲۰۲۱-۲۲خپرول**

یو جامع راپور چمتو کول وه چې د بنسټ اهداف، ماموریت، پروګرامونه او اوږدمهاله لیدلورب بیانوي. دا سند به د راتلونکو راپورونو او پروګرامونو لپاره ستراتیژیک چوکاټ وي

**د بنسټ ویبسایټ جوړول او پراخول**

یو نوی ویبسایټ جوړول چې بلاګ او مطالب به ولری ،د نړیوالو تحقیقاتو او تبادلې لپاره به یو مرکزي پلاتفورم وي

**عامه اړیکې او فرهنګي پروګرامونه**


د افغان فرهنګي میراث د پیژندنې او عامه پوهاوی سطح لوړولو لپاره د بحثونو او شبکې جوړونې تر سره کول، پدې کې د SWR3راډیوي پروګرام، کنفرانسونه، پریزینټېشنونه او د کابل بحثونه شامل دي.

**راتلونه او ارزونه**

موږ د برشنا/برشنا په اړه د پروګرامونو او ټولنیزو شبکو دلارې اړوند ګڼ شمېر مطالبو راټولول او ارزول پیل کړي دي.

عبدالغفور برشنا په خپل وخت کې د هنر په اړه د ټولنیز پوهاوي ، شعور د لوړولو لپاره کار کاوه – هم د یو شخص په توګه او هم د یو سمبول (نبنه) په توګه ،د هغه څخه دي چې نن پورې هنر د ژوند ارتیا ګڼل کیږی او استازیتوب یې کوي...


**له نندارتون مجلې اشتوټګارت / افغانستان ۲۰۲۴**
**لیکنه: ډاکتر انته کرَمر**



BRESHNA FOUNDATION FOR CULTURE

Abdul Ghafur Brechna - Buzkashi, national equestrian game, 1954 - oil-painting, 100x70

2021 | 2022

د کلني راپور سرپڼه




د بنسټ د ویب‌پاڼې برخي سکرین‌شاټونه

# ننګونې / ستراتيژيک هدفونه

سره له دې چې د برشنا فرهنګي بنسټ ځينې مهمې لاسته راوړنې لري، خو د ګڼو ننګونو سره هم مخ دی چې فعاليتونه يې اغېزمنوي

**مالي منابع**

د دوامداره مالي سرچينو نشتون زموږ تر ټولو لويه ستونزه ده. بنسټ د خپلو پروژو د تطبيق لپاره نړيوالو همکاريو او مالي مرستو ته اړتيا لري

**د پام نشتوالی / ژبنی خنډونه**

د افغانستان هنر او فرهنګ، په ځانګړي ډول د شلمې پېړۍ اړوند، په نړيوالو بحثونو او علمي محافلو کې لږ انعکاس مومي

ژبني خنډونه د بـنسټ د نړيوال ليد محدودوي. او د مؤثر نړيوال حضور مخه نيسي. څو ژبنی اړيکې(پښتو، دري، انګليسي، آلماني....)پراخو هڅو ته اړتيا لري.

**فرهنګي او ښوونيزه پوهه**

ډېري افغان ځوانان د شلمې پېړۍ اړوند فرهنګـي ځانګړتياوو ته محدود لاسرسی لری .دا ستونزه د فرهنګي ميراثونو په اړه د نه پوهيدو لامل کيږي د هدفمندو ښوونيزو پرګرامونو او ډيجيټلي پليټفورمونو جوړولو ته پاملرنه ،دا ستونزه کمولی شي.

**د متخصصينو کمښت**

په افغانستان کې د آرشيف، مرمت ساتنې او ډيجيټل کولو شرايطو ته وړ متخصصين کم دي.دا کار د نړيوالو همکاريو ته اړتيا لري. د فرهنګي ځايونو، آرشيفونو او هنري آثارو ته لاسرسی هم ستونزمن دی او د پروژو تطبيق يا اجرايي چارې له خطرونو او لوژستيکي ستونزو سره مل وي.

**ستراتيژيک لومړيتوبونه**

په دې ننګونو سربېره، موږ د خپلو اهدافو د منځمهاله تحقق لپاره ستراتيژيک حلارې تعقيبوو

**نړيوالې همکارۍ او حمايوي مشارکتونه**

زموږ لومړيتوب د نړيوالو همکاريو پراخول او د تحقيق، آرشيف او ډيجټلي پلاتفورمونو لپاره د حمايوي شريکانو موندل دي

**عامه اړيکې او آنلاين مشارکت**

د افغانستان د فرهنګي ميراث، په ځانګړي توګه د شلمې پېړۍ اړوند، د ساتنې لپاره نړيوال پوهاوی ضروري دی زموږ ستراتيژي د نوې ټيکنالوژۍ او ټولنيزو شبکو پراخه کارونه ده، تر څو د افغانستان د فرهنګ په اړه نړيوال بحث پراخ شي او د برشنا فرهنګي بنسټ پلاتفورم ورته زمينه برابروي.

**د ژبنيو خنډونو راکمول**

د ژبنيو خنډونو کمښت به موږ ته دا زمينه برابره کړي چې په فرهنګي پروګرامونو سربېره، علمي مقالې، خپرونې فرهنګي ښوونيز پروګرامونه او آنلاين کورسونه له همکارو مؤسسو سره وړاندې کړو

د دغو اهدافو پلي کول يوازې ستاسې د همکارۍ او ملاتړ له لارې ممکن دي

**ستاسې په مرسته، موږ کولی شو يو خلاق،پوه او په فرهنګ مين نسل وروزو او د افغانستان د علمی،هنري او فرهنګـي تنوع روښانه انځور وړاندې کړو.**

# مالی چارې

**مالی شفافیت**

د برشنا فرهنګي بنسټ د شفافیت او حساب ورکړي د اصل پر بنسټ، هر کال د خپلو فعالیتونو، لګښتونو، مرستو،مالي منابعو ا و مرسته کوونکو راپور وړاندې‌کوي

**د مالي وضعیت**

په ۲۰۲۳ /۲۴کال کې ، بنسټ هیڅ بهرنی عواید نه لرل. دخپلو محتودو داخلي منابعو پر بنسټ ، یوازې یو شمیر مهمې پروي تمویل شوی دي. دخپلو داوطلبو غړو لخوا دمالي ملاتړ تر څنګ، ځینی همکاري د محلي او نړیوالو پرګرامونو له لارې تر لاسه شوی دي.

د زهرا برشنا له خوا له شخصي منابعو تمویل شوي لګښتونه

د آرشیف د زېربناوو ښه‌والی

د سفر لګښتونه، کنفرانسونو او پروګرامونو کې ګډون فیسونه او نور اړوند مصارف

د ویب‌سایټ مدیریت او ډیجیټلي زیربناوو او نورو اړوند خدماتو لپاره میاشتني مصارف

**بودیجې لیدلوری د ۲۶/۲۰۲۵ کالونو لپاره**

د برشنا بنسټ ژمن دی چې خپل فعالیتونه پراخ د بېلابېلو کړي او د افغانستان هنر او فرهنګ ته ټولنیزو ډلو لاسرسی آسانه کړي

موږ به د نویو مالي منابعو جذب، ستراتیژیکو او نړیوالو همکاریو، او ډیجیټلي پروګرامونو پراختیا له لارې د خپلو فرهنګي نوښتونو راتلونکی تضمین کړو

# مننه او قدرداني

**مننه او قدرداني**

موږ له ټولو همکارانو، شریکانو او ملګرو د زړه له کومې مننه او ژور قدرداني کوو چې د ۲۰۲۳-۲۴ کال د فعالیتونو په ترسره کولو کې یې د برشنا فرهنګي بنسټ سره ژمنتیا او ملاتړ وکړ، تاسو زموږ د فرهنګي لارې یوه نه بېلیدونکې برخه یاست.

**ځانګړې مننه**

ځانګړې او صمیمانه مننه له **دیپلوم انجنیر بنجامین تیله** څخه، د آرشیف، ډیټابېس او حسابداری په برخو کې د ارزښتناک رضا کارانه ملاتړ لپاره

ژوره مننه د **لیندن موزیم اشتوتګارت** له درانه ټیم، په ځانګړې توګه له **ډاکتر انتې کرَمر** څخه،چې د نندارتون او ځانګړې فرهنګي ورځو دې تر سره کولو په برخه کې فوق العده همکاری او هڅی وکړی.

همدا راز له خپلو درنو کورنیو او دوستانو څخه ځانګړې قدرداني کوو ، چې د سلا مشورو ، نه ستړې کیدونکی ملاتړ او دوامدار حضور له لارې زموږ ځواکمن ملاتړې پاتې شوي دي – ستاسې دا ملاتړ بې‌قیمت دی

# د خپرونکي مشخصات (IMPRESSUM)


**خپرندوی**
فرهنګي بنسټ برشنا

**لیکنه او تدوین**
د هغې همکار ټیم ډاکتر زهره برشنا او



**تماس**
ایمیل
info@breshna-foundation.org
ویبسایټ
www.breshna-foundation.org

تلیفون
+49 030-469993658
فکس
+49 (0)30-469993659
پته
فریدرش کوخه، ۱۷۱
۱۰۱۱۷برلین، آلمان


## انځورونه

ټول هغه انځورونه چې په دې راپور کې کارول شوي دي، یا د برشنا فرهنګي بنسټ د آرشیف څخه دي، یا هم د لینډن موزیم اشتوټګارت له خوا په رسمي اجازه راکړل شوي دي
تاسو کولای شئ زموږ له متنونو او انځورونو یا د منبع په ښودلو د برشنا فرهنګي بنسټ څخه ویب سایټ، استفاده وکړئ
www.breshna-foundation.org

مواد که تاسو زموږ فرهنګي، هنري، علمي .... له لارې کاروئ، مهرباني وکړئ موږ ته د ایمیل خبر کړئ.
info@breshna-foundation.org
د هغو انځورونو د کارولو لپاره چې د لینډن موزیم پورې اړه لري، مهرباني وکړئ مستقیم د موزیم سره اړیکه ونیسئ
info@lindenmuseum.de


له انځورونو هر ډول استفاده چې د مؤلف د حقونو له قانون څخه تېرې محسوبیږي، پرته زموږ له اجازې مجاز نه لری ،دا مقررات د موادو له دریمو اشخاصو سره شریکول هم شامل دي.